ليکوال: ملک اشفاق
ژباړن: زاهد خليلي
۲۴ نومبر ۲۰۱۴

د ابن خلدون ژوند، اند او فلسفه

۱۰

اقتصادي مسائل

خدای تعالی انسان خپل خليفه ټاکلی دی او د نړۍ ټول شيان يې د هغه په واک کې ورکړي دي، يوازې يو شخص بايد هغه په خپل تصرف کې رانه ولي، بلکه په ټولنيز ډول ټول خلک بايد ترې ګټه واخلي او ټول يې حقدار دي، ارسطو هم ورته نظر لري؛ خو، کله چې يو شی د يوه شخص په قبضه کې راشي، بل شخص يې بې اجازې نه شي اخيستلای، ځينې هغه شيان وړيا دي، لکه د باران اوبه، چې د پټيو او نورو اړتياوو لپاره استعماليږي؛ خو، يوازې اوبه د انسان لپاره مهمې نه دي.

ابن خلدون د رزق د لاسته راوړلو څو مختلفي طريقي ذکر کړي دي، لومړی پاچا د محصول او خراج له لارې رزق تر لاسه کوي، دويم ښکاري د ښکار له لارې، دريم، ځينې خلک د ځينو نورو حيواناتو له لارې شيدې ترلاسه کوي، ورېښمين لاسته راوړي او د شاتو مچيو نه شات لاسته راوړي او خپل رزق ځان ته برابروي. څلورم لاره يې د کروندې او د ونو څخه د ميوو لاسته راوړل دي، پنځمه لاره يې صنعت او فن دی او شپږمه لاره يې سوداګري او ډيری خلک د ملازمت له لارې خپل رزق لاسته راوړي.

د کارل مارکس نه ډير مخکې ابن خلدون د انسان خواري د اجورې د لاسته راوړلو يوه لاره بنودلې ده؛ ځکه، هغه د شيانو د لاسته راوړلو لپاره خپل خواري کوي او په قيمت کې يې زياتوالی راولي، ياني د عمل او خواری نه ګټه ترلاسه کوي.

ابن خلدون د سوداګرۍ، ګټې او زيان، اجاره داری او د جګړې په وخت کې د شيانو په ناقانونه ډول ساتلو باندې خبرې کړي دي، دا يې ويلي دي، چې سياست د اقتصاد سره ژوره اړيکه لري، که د پاچا خزانه ډکه وي او د عوامو د فلاح او بهبود لپاره يې نه مصرفوي؛ نو، په دې وخت کې پاچا په عوامو باندې ظلم کوي، هغه پاچا ته مشوره ورکړې ده، چې د مصارفو او امدن لپاره بايد يو متوازنه لاره وټاکي، د قيمتی مخه دې ونيسي او د دولت حاکميت بايد څو کسانو ته پرېنږدي، که د پاچا خزانه ډکه وي او د عوامو د فلاح او بهبود لپاره کار کوي؛ نو، عوام خلک به د هغه سره مينه او محبت وکړي، زړه له کومې او په ځان سره به يې اطاعت وکړي، که خزانه خالي وي او عوام د غربت او افلاس ښکار شي؛ نو، د پاچا دښمنان به شي، محصول دی، چې حکومت چلوي، پاچا ته به کار دي، چې په منصفانه ډول محصول ولګوي.

واکمن باید د خلکو نه د زیاتي خوارۍ غوښتنه ونکړي؛ ځکه دا غوښتنه او خواري د هغوی جسماني صحت ته زیان رسوي.
ابن خلدون وایي، چې په کلیو کې کروندې او غله جات د رزق د لاسته راوړلو لاره ده؛ خو، په ښار کې د رزق د لاسته راوړلو لارې چارې ډیرې دي، مثلا صنعت او فن، سوداګري او ملازمت او نور... سوداګرو ته مشوره ورکوي، چې په سوداګرۍ کې سستي ونکړي، بلکه په ایماندارۍ سره سوداګري وکړي، که داسې ونکړي؛ نو، بد اخلاقه به ورته وویل شي، هغوی باید قیمتي رامنځته نه کړي.
ابن خلدون شخصي جائداد قائل ته دی؛ خو، د حکومتي مشرۍ ضد دی، ابن خلدون د حکومت په خوشالۍ او ساتنه، امن او سوله او ابادۍ باندې زیات تاکید کړی دی؛ ځکه، هغه وایي، چې د قوي اقتصاد نه بغیر د حکومت پښې سستې وي.

د ماحول نظریه

د ابن خلدون د ماحول نظریه ډیره مهمه ده، د هغه په نظر د انسان په دماغي او جسماني پرمختګ باندې جغرافیایي حالات ژور تاثیرات لري، معتدلو سیمو کې تمدن او تهذیب ډیر پرمختګ کوي او ددې سیمو خلک په هر لحاظ د معتدل مزاج لرونکي وي، په دې ځایو کې پیغمبران مبعوث شوي دي؛ ځکه، ددې سیمو خلک په جسمي او ذهني لحاظ بشپړ او د عاداتو په لحاظ متوازن دي، دغه سیمې د طبیعي سرچینو څخه ډکې دي، سرې او سپینې سکې استعمالوي، د هغو اقلیم چې معتدل نه وي، د هغه ځای تمدن معمولي وي، د هغه ځای لباس، غذا او د اوسیدو ځایونه دټیټې درجې وي، تور پوستي خلک د ونو په جونپړو کې اوسیږي، موسم او هوا د انسان په خلاقو، خیالاتو او عاداتو باندې ژور اغیز لري، دا ضروري نه ده، چې د معتدلو سیمو ټول ځایونه دې سرسبز وي، چیرته ډیرې غلې وي او چیرته بیخي نه موندل کیږي، د شنو ځایونو خلک خوشاله او فارغه ژوند تیروي، ددې سیمو خلک ځکه په جسماني او ذهني لحاظ دومره قوي نه وي، د دښتو، میدانونو، صحراوو او غرونو خلک د سخت ژوند تیرولو عادي وي؛ ځکه، نو ددغه سیمو خلک زیات ذهین وي، د غذا زیاتوالی یوازې انسان نه بلکه حیوان هم اغیزمن کوي، په هغو سیمو کې چې لمر ډیر نږدې وي، د هغه ځای د خلکو رنګ زیات تور وي او په هغه سیمو کې چې لمر ډیر تېز وي، دهغه ځای خلک غم رنګ او سپین وي.
په هر حال ابن خلدون ددې نظریې په اساس د مختلفو سیمو په حکومتونو باندې رڼا اچولې او د هغوی توپیرونه یې څیړلي دي، اروپایي مفکرینو بودان او مونټیسکو هم د جغرافیایي اقلیم په نظر کې نیولو سره په انساني اخلاقو او د هغوی په سیاسي، اقتصادي ادارو باندې غږیدلي دي، ارسطو د خپل وخت د یونانیانو تعریف کړی دی، د فلسفي پراختیا او پرمختګ یوازې د جغرافیایي حالاتو پورې تړلی دی او ددې څخه د اروپا نورې سیمې محرومې دي، مونټیسکو د شمالي اروپا خلکو ته په کتو سره، د یخو سیمو خلک بااستعداده، چست، خواري کښ او ازادۍ خوښې خلک معرفي کړي دي او ویلي یې دي، چې د ګرمو سیمو خلک سست، کمزوري او د غلامۍ خوښوونکي خلک دي، په داسې حال کې چې د همدې شمال خلک لومړی په وحشت او تیارو کې ډوب وه.

د زده کړې فلسفه

ابن خلدون د زده کړې په اړه هم نظریه وړاندې کړې ده، د هغه په نظر زده کړه د هر شخص طبیعي حق دی، دده نه مخکې هیڅ فیلسوف علم او فن د خلکو طبیعي حق نه وه پیژندلی، ابن خلدون په ښکاره الفاظو سره دا خبره کړې، چې د علم او فن زده کړه د شخص فطري غوښتنه ده، د علم د فضلیت په باره کې هر وخت خلکو نظریات ورکړي دي؛

خو، د علم لاسته راوړل د بشري غوښتني په حيث او په فلسفي دلائلو باندي د هغي ثابتول په لومړي ځل ابن خلدون وړاندې کړل، ابن خلدون د خپل وخت د تعليمي نظام نه خوش نه وه، هغه يي د ښه کولو لپاره فکر وکړ او نظريات يي وړاندې کړل، ابن خلدون د خپل وخت د مفکر قاضي ابوبکر ابن عربي نه زيات اغيزمن ښکاري او د هغه د اصولو ستاينه کوي، د ابن خلدون په تعليمي نظرياتو کي د ابن عربي افکار ښکاري.

د علم تصور

د ابن خلدون په نظر اصلي او حقيقي علم د معرفت علم دی او معرفت (پيژندنه) انسان ته حقيقت روښانه کوي؛ خو، هر شخص د معرفت علم نه شي ترلاسه کولای او نه هر شخص په کي دلچسپي لري، بدای خلک د دنياوي او مادي علومو طرف ته کوښښ کوي؛ خو، د حقيقت په پيژندنه (معرفت) کي ابن خلدون وجدان او الهام ته قائل دی او هغه ته يي د شپږم حس نوم ورکړی دی، کوم چي هر شخص نه شي کولای لاسته يي راوړي، بلکه د الله تعالی ورکړه ده او ځينو، ځينو اشخاصو ته ورکول کيږي، هغه خلکو ته چي دا علم ورکړل شوی، هغه پيغمبران دي، په دې لحاظ يوازې پغمبران د حقيقي علم سره اشنا وي، د عامو خلکو عقل محدود او سطحي وي؛ ځکه، نو ضروري ده، چي خلک د پيغمبرانو په تعليماتو باندې عمل وکړي، تر څو نجات ومومي.

د علومو ډولونه

ابن خلدون ټول علوم په دوه ډولو ويشلي دي.

۱- طبيعي علوم ۲- نقلي علوم

۱- طبيعي علوم

دا داسي علوم دي، چي په هغي باندې د پوهيدو لپاره انسان د خپل فکر نه کار اخلي، په خپلو عقلي قواوو سره موضوعات، مسائل او دلائل حاصلوي، د خپلو ذهني قوتونو نه کار اخلي، په دغو علومو کي مهارت ترلاسه کوي او په هر څه کي تميز حاصلوي.

په طبيعي علومو کي منطق، طبعيات، طب و خلافت، الهيات، سحر، جادوگري، هندسه، موسيقي او نور شامل دي.

۲- نقلي علوم

ددي څخه هدف داسي علوم دي، چي په کومه واضحه وسيله انسان ته حاصليږي، ددې دار و مدار په نقل او رواياتو باندې دی، انساني عقل په کي کوم رول نه لري، د نقلي علومو سرچينه د خدای تعالی کتاب (قران کريم) او د رسول الله صلی الله عليه وسلم سنت دي، کوم چي زموږ شريعت دی او زموږ دين ترې منځته راغلی دی، په نقلي علومو کي تفسير، قرائت، حديث، فقه، لغت، بيان، نحو، اداب، تصوف او د خوبونو تعبير شامل دي.

د علم ذريعي

د ابن خلدون له نظره علم د دوه لارو څخه ترلاسه کيدای شي، ۱- ظاهري حواس ۲- باطني حواس.

۱- ظاهري حواس: د ظاهري حواسو څخه هدف غوږ، سترګه، پوزه، ژبه او جلد دی.

۲- باطني حواس: د باطني حواسو څخه هدف مشترک حس، تخيل، وهم، حافظه، غور او فکر دي، ددې څخه د مجردو تصوراتو علم ترلاسه کيږي.

ابن خلدون حواس خمسه (پنځو حواسو) څخه د علم زده کول ضروري ګڼلي دي؛ ځکه، ټول دنیاوي او مادي علوم ددې پنځو حواسو څخه ترلاسه کیږي؛ خو، ابن خلدون دغه پنځه حواسه د علم د لاسته راوړلو د یقیني ذریعي په توګه نه مني، هغه وایي، چې ددې حواسو په واسطه تر لاسه شوی علم د معرفت علم نه دی، هغه حقیقي معرفت لپاره ذریعه الهي وحي ګڼي.

د زده کړې موخې

د ابن خلدون له نظره د زده کړې موخې د ټولني د موخو تابع وي، هغه د زده کړې موخې په لاندې ډول بیانوي.

۱- د داسي کسانو روزل، چې ژوند په ښه ډول تیر کړي.

۲- د نویو پیداشویو او بالغانو کلتوري خلاء ډکول.

۳- فرد ته په درست ډول د فکر کولو عادت ورکول، تر څو ټولنیز مسائل په صحیح ډول حل کړي.

۴- زده کوونکو ته د قواعدو او ضوابطو مطابق د ژوند تیرولو تربیت ورکول.

۵- په زده کوونکو کې تمدني خصوصیات رامنځته کول، تر څو ټولنه په صحیحو لیکو باندې روانه کړي.

۶- د مسلمان د زده کړې اصلي موخه د الهي معرفت پیژندل دي، کوم چې د پیغمبرانو د پیروی نه ترلاسه کیږي.

په تعلیمي نصاب باندې نیوکه

د ابن خلدون په وخت کې په تعلیمي نصاب کې زیاتي نیمګړتیاوې موجودې وې، هغه د تعلیمي نصاب نه مطئمن نه وه، هغه خپله ټوله توجه تعلیمي نصاب ته واړوله، ابن خلدون د خپل وخت مفکر قاضي ابوبکر ابن عربي نه زیات اغیزمن ښکاري، قاضي ابوبکر د زده کړې په طریقه باندې نیوکه کړې، هغه وېل، چې د ماشومانو د زده کړې پیل باید د قران کریم نه وشي، هغه وېل، چې د قران کریم ژبه د فصاحت، بلاغت له نظره د یو زده کوونکي لپاره ډېره اړینه ده، هغه وېل، چې په حساب او د مورنی ژبې په زده کړه باندې هم تاکید کړی دی، د هغه له نظره د حساب په زده کولو سره د ماشومانو فکري قوت زیاتیږي، په دې سره ماشومان د استدلال طریقې زده کوي.

ابن خلدون ځیني لاندې نیمګړتیاوې هم ذکر کړي دي.

۱- د تألیفاتو زیاتوالی

د ابن خلدون په وخت کې د تعلیمي نصاب یوه ستره نیمګړتیا دا وه، چې د علم په یوه، یوه څانګه او یو، یو فن په یوه اړخ باندې زیات کتابونه ولیکل شول او ټول یې په نصاب کې داخل کړي وه او تر څو پورې چې کوم زده کوونکی هغه ټول کتابونه زده نه کړي، د هغه وخت پورې د فضلیت دستار نه ورکول کیده، هغو کتابونو د شرحو حیثیت درلوده، د یوه کتاب څو شرحې لیکل شوې وې، په داسې حال کې، چې په دې سره د شاګردانو په ذهن کې انتشار پیداکیده.

ابن خلدون ویلي دي:

د ټولو عبارتونو مطلب یو دی، زده کوونکي مجبوریږي، چې ټول عبارتونه یاد کړي، ابن خلدون وایي، چې په یوه فن کې د زیاتو شرحه شویو کتابونو لیکل، ځکه ښه کار نه دی، چې د ټولو کتابونو مطلب یو دی.

۲- د تألیفاتو اختصار

د ابن خلدون له نظره د تألیفاتو اختصار د زده کړې مانع ګرځي، په هغه وخت کې ځيني داسي علماو وه، چې کوښښ یې کاوه، دریا په کوزه کې بنده کړي.
د ابن خلدون پر ضد دا غږ پورته کیده، چې ابن خلدون وايي، هغه څه چې په تفصیل سره زده کیږي، هغه په مختصر ډول نه شي زده کیدای، داسي لیکوالانو بلاغت لیرې غورځولی دی او زده کوونکي یې په یوه مصیبت کې اچولي دي، په دې سره په زده کوونکو کې علمیت نه شي پیداکیدای، بلکه زده کړه یې سطحي وي، ابن خلدون د تألیفاتو اختصار نه خوښاوه؛ ځکه، چې نصاب داسي یوه لاره ده، چې د هغې پواسطه د ژوند ټول حالات زده کیدای شي.

۳- تدریسي اصول

ابن خلدون د استادانو په هلکه وايي، چې هغوی د تدریس په وخت کې د اسان نه مشکل خواته د تګ اصول په پام کې نه نیسي، اکثره استادان په لومړیو کې په سختو او پیچلو مسائلو باندې بحث پیلوي، په دې سره د زده کوونکو په سبق یادولو کې مشکل پیښیږي او تدریس د هغوی لپاره بې مانا وي او نه شي کولای، چې د تدریس نه ښه استفاده تر لاسه کړي او ځیني وخت زده کوونکی د فرار او تیښتې لاره خپلوي

۴- د ارتباط اصول

د ابن خلدون له نظره استادان د ژبې او ادب په تدریس کې د ارتباط اصول په نظر کې نه نیسي، استادان داسې چاپیریال پیداکوي، چې درس د زده کوونکو د ذهن نه لوړ وي او په درس کې دلچسپي اخیستلو نه ځان ساتي.
استادان په دې سره د زده کوونکو د ذهني صلاحیتو د له منځه وړلو کوښښ کوي او په دې ډول هغوی د درس د جزیاتو نه محرومیږي.

۵- درجه بندي

په تعلیمي نصاب کې د مضامینو ترتیب نه نیول کیږي، ابن خلدون په تعلیمي نصاب د درجه بندی غوښتونکی وه، د لومړنیو او وروستنیو مسائلو په غلطلو سره تدریس اغیزمن نه وي، د زده کوونکي د صلاحیتونو معلومات دې وشي، چې د هغه ذهن د علومو او فن د اخیستو څومره قابلیت لري، د نن وخت د ښووني او روزني ماهرین وايي، چې د نصاب د تدوینولو په وخت کې دې، د زده کوونکي عمر، قابلیت او تمایلات په نظر کې ونیول شي، دا خبره شپږ سوه کاله دمخه ابن خلدون کړې ده.

۶- د علومو حفظول

په هغه وخت کې به زده کوونکي مجبوریدل، چې مضامین حفظ کړي، د مضمونو مطلب او معنا به ورته نه ویل کیده، ابن خلدون ویل، هغه څه چې زده کوونکو ته ویل کیږي، باید تشریح کړل شي او مطلب یې ورته بیان کړل شي، تر څو د درس په اصلي روح باندې پوه شي.
نوربیا